

# خپل TBC زیږون لپاره باید څه له ځانه سره واخلئ...

*موږ سپارښتنه کوو کله چې تاسي د بشپړ وخت یا 37 اوونیو امېدواره یاست دغه څیزونه راټول کړئ.*

## TBC
## سرچیني

موږ د مقدسو بومي درملو او اوزارو د زېرمي یوه الماری لرو چې د کوړنی شرقي ځای کي دی. بومي کورنی کولی شئ خپلي قابلي یا د زېږون مرکز مرستیال له لارې ورته لاس رسی ولري.

موږ ټولي کورنی هڅوو چې خپل مقدس توکي او اوزار چې ورته د زېږون مراسمو کي خپل کټلوري اقداماتو کي شاملولو ته اړتیا لري له ځانه سره راوړي.



### غواړئ لیدنه وکړئ؟

موږ سره اړیکه ونیسئ

تیلیفون: 416-366-8080 x 101


TORONTO BIRTH CENTRE

525 Dundas Street East
Toronto, ON M5A 2B6
www.torontobirthcentre.ca


## لطفاً

- له زېږون وړاندي سوانح چې قابله یې تاسي ته لیږدولو لپاره درکوي
- د ماشوم د موټر څوکی
- د ماشوم خولی او کمپلي په ګډون په کور کي اغوستلو لپاره ستاسي ماشوم لپاره د هوا مناسب جامي. هغه جام انتخاب کړئ چي ستاسي د ماشوم د موټر څوکی د تسمي لاندي په خوندي توګه وراغوندل کېدلی شي.
- د لاندي جامو په ګډون تاسي لپاره ارامه جامي چي زېږون او له هغي وروسته یي اغوستلی شئ.
- کور ته تګ پر مهال اغوستلو لپاره ارامه جامي. د تي ورکولو سینه بند او/یا د تی ورکولو پیونه او کش لرونکي بوټان انتخاب کړئ.
- انټاریو روغتیایي کارت یا د هویت نوري بڼي

*دغو څیزونو ترلاسه کولو کي مرستي لپاره لطفاً خپلي قابلي سره خبري وکړئ*





## TBC کې ستاسې پاتې کېدو پر مهال خواړه او څښاک

TBC زېږون کوونکو پېرېدونکو لپاره مختصر خواړه او څښاک ورکوي. لطفاً خپل ملاتړ کوونکو کسانو او/یا کورنۍ لپاره مختصر خواړه راوړئ.

TBC تولو ملاتړ کوونکو کسانو او قابله ګانو لپاره کافي، چای، او اجزاوي ورانده کوي. موږ تاسي او/یا ستاسې کورنۍ هڅوو چې د هغه خواړه چمتو کولو لپاره چې غوښتل مو له کوره راوړئ زموږ مجهز پخلنځی وکارئ، یا له بهر څخه پرمایته ورکړئ.

## TBC کې خپل ماشوم ته تی ورکول

نوي زېږېدلي له زېږون لږ وروسته او د خپل ژوند لومړیو میاشتو کې په مکرره توګه تغذیې ته ضرورت لري. په TBC کې، موږ هغو والدینو څخه چې د ماشوم تغذیې اړوند باخبره پرېکړه کوي ملاتړ کوو.

که خپل ماشوم ته د مصنوعي شیدي (وچې شیدي) ورکولو پلان لرئ، لطفاً خپلې قابلې سره په دې اړه چې کوم څیزونه باید TBC ته له ځانه سره راوړئ خبرې وکړئ.

## لطفاً دغه څیزونه له ځانه سره راوړئ

- د موټر سفر لپاره د ټي کولو لګن یا کڅوره، کمپله او/یا تولیه
- د حمام وسایل (د غاښونو برس/د غاښونو کریم، د وېښتانو برس، شامپو، کانډیشنر، صابون، د وېښتانو تړونکی/کشک)
- خپل موبایل لپاره چارجر
- تصویرونو اخیستلو لپاره کامره یا تیلیفون
- د مساژ بوی نه لرونکی تېل یا لوشن
- ماشوم لپاره د پمپر کریم یا تېل
- لب چرب
- ژاوله یا خواړه
- جرابې او نه ښوییدونکي څپلۍ
- مایکرو ویو کې د ګرمېدو وړ کڅوړې
- زموږ بلوتوت سپیکرونو سره کارولو لپاره د موسیقۍ سرچینې (د غوړۍ ځای سره هم وصل کېدلی شي)
- کرښې یا رنګه پوښ لرونکی ارام بالښت (د TBC بالښتونو سره له ګډ کېدو څخه مخنیوی لپاره)
- عینکې او لینز (پوښ او محلول)
- د هر هغه څوک لپاره د حمام جامې چې غواړي تاسي سره ټب یا حمام ته دننه شي
- هره هغه څه چې روغتون ته لېږدول کېدو په صورت کې ورته اړتیا لرلی شئ



## لانډیني TBC

### د زېږون ملاتړ

- هره خونه کې ثبات، د «زېږون» توپ
- د زېږون څوکۍ
- د زېږون ټبونه او حمامونه
- ځمکنۍ فرشونه
- د زېږون زنځیر
- TENS واحد (د اعصابو محرک)
- نایټروس اکساید (د خندا ګاز)

### نور تجهیزات او اراموونکي

- د هر زېږون کوونکې پېرېدونکې په سر د یو موټر د ځمکي لاندي پارکینګ
- ملاتړ کوونکو خلکو لپاره رابرې څپلۍ
- د لېږد وړ بلوتوت سپیکرونه
- د واورې ماشین
- پېرېدونکو لپاره د اړتیا پر مهال اغوستلو لپاره چپنې
- نېټفلېکس، کتابونه، کمپلې، اور ځای او د ماشومانو د لوبې سامان لرونکې ارامه انتظار ځایونه
- د سیني-/تي- ورکولو بالښتونه
- د ماشوم لومړي څو پمپرونه